# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


چانګ چیه چنګ
ژباړه: فرهاد ویاړ
۱۹ جنوری ۲۰۱۷

## نورمن بسیون په چین کې

**(۲)**



د سیمې د پوځ  قوماندان د مائوتسه دون هغه لارښود ډاکټر بسیون ته ابلاغ کړ چې له مخې هغه د پوځ د روغتیایي مشاور په توګه ټاکل شوی و او له هغه وروسته هر میاشته ۱۰۰ یوان هغه ته ورکړل کیدل. ملګري بسیون هماغه شپه صدر مائو ته یو لیک ولیک او په هغه کې یې قول ورکړ چې د خلکو او د پوځ د سرتیرو اوښکي او موسکاګاني له هغه سره شریکي کړي او خپله میاشتنی تنخواه یې هم روغتون ته ډالی کړه چې د جګړې د ټپیانو لپاره د خوراکي موادو لپاره مصرف شي.



ملګری بسیون، ان د شپې تر ناوخته پورې په کار بوخت و، د ښه روغتیایی خدمتونو د چمتو کولو لپاره، هغه د یو نوي بیلګه ایز روغتون طرحه کېښوده.



لږه موده وروسته، د **سانګینکو** په کلي کې یو پخواني معبد نوی بڼه وموندله. د ملګري بسیون په وړاندیز د کار یوه پنځه اونیزه لړی په لاره ولیده چې په دغه معبد کې د یو بیلګه ګیز روغتون طرحه پلې شي. په دې کارلړ کې، د سیمې خلکو او پوځیانو په فعاله توګه ګډون وکړ.



د ملګري بسیون کار ورځ تر بلې زیاتیدو. د تېپانو د درملنې سربیره، هغه د روغتون لپاره د تختو د جوړلو په هلکه هم ترکاڼانو ته لارښوونه کوله.



کله نا کله به ملګري بسيون څټګ اخيستو او له هغو پښانو سره به يې مرسته کوله چې روغتيايي وسايل به يې جوړل. ملګرو به له هغه پوښتنه کوله چې کله يې هم کارګري کړی ده او که څنګه؛ هغه به موسکيدو او ويل به يې:«د دې لپاره چې ښه جراح ووسئ، نو ښايي لومړي يو ښه پښ، ترکاڼ، درزي او سينګارونکي ووسئ.»



ملګرې بسيون د روغتون کارکوونکو لپاره د ټپونو د عفونت ضد او د درملنې په اړه د درسونو لړۍ پيل کړه.



د **سانګينکو** کلي د ښځو د خلاصون ملی انجمن غړي، داوطلب شول چې د روغتون کټونه جوړ  او پاک کړی او کوټې پريمنځي.



د هغې ډېرینې لارې، چې روغتون ته د ورتګ لاره وه او ټپیان به هر ورځ له هغې تیریدل؛ یو ډېره ماته شوی وه. نورمن بسیون د نورو ملګرو سره لاس په کار شول او دا ډېرینه لاره یې جوړه کړه. ملګري بسیون اندیښنه لرله چې داسې نه په دې لاره کې د ټپیانو ښه خوږی شې او سوري ته ورولیږي.